

دغه خدمت د ماشومانو د خونديتوب بيانيه لري
ماشومان او ځوانان حق لري چې زموږ د خدمت د کارولو پر مهال خوندی وي.
موږ د ماشومانو د خونديتوب يوه بيانيه را منځته کړې ده تر څو وښيو چې موږ څه ډول د ماشومانو او ځوانانو په خوندي ساتلو کې مرسته کوو.
دا ښيي چې څه ډول هغه خلک چې دلته کار کوي ماشومان او ځوانان د دې خدمت د کارولو پر مهال له زيانمنېدو او ضرر ليدو څخه خوندي کړي.
اړوند شخص ، هغه شخص دی چې تاسو د ماشوم د خونديتوب د بيانيې په اړه د هر راز پوښتنې لرلو په صورت کې ورسره خبرې کولای شئ.
تاسو کولای شئ له هغه چا څخه چې دلته کار کوي د اړوند شخص د نوم او د اړيکو د جزئياتو په اړه پوښتنه وکړئ.
که چېرته کوم څوک تاسو ته زيان رسوي، نو دا هېڅکله ستاسو ګناه نه ده.
تل داسې يو څوک شته چې له تاسو سره مرسته وکړي.
که چېرته کوم څوک تاسو ته زيان رسوي يا اندېښمن ياست چې کوم څوک ستاسو ملګرو او کورنۍ ته زيان رسوي... نو يو چا ته چې دلته کار کوي يا د خپل د باور وړ مشر کس ته ووایاست.
QR CODE SCANNING